# آیا دربیم بن، موقت حکومت او لویه جرګه د تېرو ناکامو تجربو بیا تکرار نه دی!؟



د افغانستان لوی ملي ایتلاف چې د دولت بېلابېل سیاسي مخالفین پکې راټول شوي دي، په دې وروستیو کې د یوې اعلامیې د خپرولو په ترځ کې د هېواد د روان کړکېچن وضعیت لپاره دربیم بن کنفرانس، لویه جرګه او موقت حکومت د حللارو په توګه وړاندیز کړي دي.

سره له دې چې دا کوم نوي بدیلونه نه دي، بلکې هر یو تجربه شوی او ناکامې تجربې یې اوس هم د دې خاورې مظلوم ولس کړوي. د دې لپاره چې د دغو بدیلو حللارو واقعیت او موثریت ښه درک کړو، لازمه ده چې له سیاسي پلوه لږ وربانديې تم شو او تاریخي پس منظر یې څه ناځه روښانه کړو.

بن کنفرانس؛ د بن لومړی کنفرانس چې په ۲۰۰۱م کال کې جوړ شو، په لوی لاس د افغانستان ځیني مطرح ډلې لکه (طالبان او حزب اسلامي) پکې له پامه وغورځول شول، ترڅو د امریکایي اشغال دوام ته لار هواره او دوی د حکومت، امریکا او ناټو د وسلهوالو مخالفینو په توګه خپل سیاسي-نظامي ژوند ته دوام ورکړي. پخواني مجاهدین، یو شمېر جنګسالاران، قاتلین او د بشري حقونو ناقضین پر افغانستان وتپل شول چې په نتیجه کې یوه ناکاره او غیرمتعهده اداره رامنځته شوه. د جګړه مارو ډلو اړوند کسان چې تر دې د مخه یې د قدرت لپاره کلونه کلونه له یوبل سره جګړې کړې وې، په نوې اداره کې سره راغونډ شول او د دې پرځای چې د خلکو ستونزې هوارې کړي، خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته یې ترجیح ورکړه، غربي او امریکایي اشغال سره یې د زړه له کومي مرسته وکړه او د افغانستان د استعمار لپاره یې زمینه برابره او د غرب غلامۍ ته یې ملا وتړله.

همدغو جنګسالارانو او زورواکو له حکومتي واک څخه په ګټې اخیستنې هر یوه زرګونه جریبه دولتي او شخصي ځمکې غصب کړې، چې د یوې شمېرنې له مخې اوس په افغانستان کې کابو څلور میلیونه هکتاره ځمکه یادو زورواکو غصب کړې ده.

امریکا نه غوښتل چې افغانستان یو پیاوړی، مرکزي او په ځان بسیا دولت ولري، ځکه یې واک د پخوانیو سختو رقیبو ډلو تر منځ ووېشه او دوی هم له دغه فرصت څخه په استفادې په حکومت کې دننه مافیایي کړۍ جوړې کړې. اداري فساد اوج ته ورسېد او افغانستان څو ځله پکې له مخکښانو څخه و. ناامني خورا زیاته شوه، تر دې چې په دې وروستیو کې سیګار د هېواد د ناوړه وضعیت په اړه «په افغانستان کې

هېڅ خوندي ځای نشته» تر سرليک لاندې يو راپور خپور کړ. د نړۍ تر ټولو زيات نشه‌يي توکي په افغانستان کې توليد شول او دا اندازه کال په کال لوړېږي، د بي بي سي د راپور په حواله په ۲۰۱۷م کال کې ۹ زره ټنه ترياک توليد شوي. د نشه‌يي توکو د دغه ناقانونه اقتصاد کچه د ټول هېواد د کرنيزو محصولاتو په اندازه ده او د سوداګرۍ ارزښت يې تر ٦.٦ ميليارده ډالرو پورې رسېږي. دغه راز له ۳۰ ميليونه نفوس څخه شاوخوا درې نيم ميليونه کسان په نشه‌يي توکو روږدي دي، چې يو ميليون يې ماشومان او ۸۰۰ زره يې ښځې دي. فقر او بېوزلي د دغه کنفرانس څخه د رازيږېدلي حکومت او سياسي نظام (وارداتي ډيموکراسۍ) يوه بله ډالۍ وه، چې دا مظلوم ولس يې تر ننه ورباندې وکړاوه. د وروستيو راپورونو پر بنسټ د افغانستان تر نيمايي زيات ٥۴٪ نفوس د فقر تر کرښه لاندې ژوند کوي. دغه راز فحاشي، بې‌بندوباره ازادي، غلا، ترور، وحشت، انتحاري او نور ناورينونه د دغه نظام زېږنده دي.

لويه جرګه؛ د طالبانو د حکومت له راپرځېدو وروسته څو لويې جرګې جوړې شوې؛ خو څنګه چې جرګه په افغانستان کې په عنعنوي ډول تر مشورې ورهاخوا په مهمو هېوادنيو مسئلو کې د پرېکړو صلاحيت هم لري، نو دغو جرګو په تکراري ډول د خپلو بادارنو د اهدافو لپاره کار وکړ. د اساسي قانون له جرګې وروسته څو نورې جرګې هم جوړې شوې، چې وروستۍ يې د کرزي د حکومت په وروستيو کې د امنيتي تړون د هوکړې په موخه مشورتي لويه جرګه وه، چې د امريکا د کرايي قاتلينو او امنيتي کمپنيو د انفجارونو تر فشارونو لاندې يې د امنيتي تړون د لاسليکولو مشوره ورکړه او د افغانستان مظلوم ولس يې له رنګارنګ ناورينونو سره مخ کړ. نو په ټوله کې دغو لويو جرګو صرف د خپلو بادارانو د موخو او پروژو لپاره کار وکړ او هېڅکله يې د دې خاورې د مسلمان ولس اراده تمثيل نه شوای کړای.

موقت حکومت؛ هغه مهال رامنځته کېږي چې هېواد تازه له جګړې وتلی وي او ټولې ډلې ټپلې او ګوندونه په يوه لنډمهاله حکومت سره سلا شي، ترڅو هېواد له بحراني حالت څخه د ثبات او امن حالت ته ولاړ شي. يعنې له صفر څخه پيل وکړي او د انتقالي دورې په پايله کې نوی اساسي قانون جوړ او انتخابات وشي. د افغانستان د لوی ملي ايتلاف غړي هم دې نتيجې ته رسېدلي چې شته حکومت نور وضعيت نه شي کابو کولی، ناامني، درغلي او فساد اوج ته رسېدلي، شفاف انتخابات ناشوني دي؛ نو بايد له صفره پيل وشي او ټولې خواوې پر يوه سرپرست موقت حکومت سره سلا شي، ترڅو انتخاباتو ته لار هواره او ثبات رامنځته شي. خو دلته موقت، انتقالي او له انتخاباتو وروسته حکومتونه تجربه شوي او امريکا ته يې لاسته راوړنې درلودې، نو امريکا به څنګه له ۱۷ کلنو لاسته راوړنو وروسته له صفره پيل کوي!؟ خو که يوازې له طالبانو سره د سولې لپاره او د هغوی لپاره په اساسي قانون کې د بدلون په موخه موقت حکومت جوړيږي، تر يوې کچې يې امکان شته، مګر دا چې دغه وړانديزونه به زموږ ستونزې حل کړي، د افغانستان امنيت به ښه شي، خلک به سوکاله شي، دا هسې د هوا ګزول دي او له ځان غولولو پرته بل څه نه دي، ځکه سرپرست او موقت حکومت د امريکايي موخو او جنايتونو لپاره يو نوی سرپوښ دی چې تر يو څه وخته به بيا افغانان ور باندې بوخت وساتي او بس.

نو د دغه ايتلاف د رهبرانو او غړو ليدلوری ډېر تنګ او د افغانستان په جغرافيا کې محدود دی. خو امريکايان بيا دغو ټولو ستونزو ته له خپلې ايډيالوژۍ او يوې پراخې زاويې ګوري او په دې برخه کې پراخې استعماري لاسته راوړنې هم لري. دوی په ۲۰۱۴ کې خپل جنګيالي له وسله‌والو مخالفينو سره له مخامخ جګړې او جنګي جبهو راوايستل، جګړه يې بين الافغاني کړه، د جګړې ټول ښکېل اړخونه او قربانيان يې افغانان وګرځول او خپل پوځيان يې د جګړې له ډګره خوندي شوو اډو ته واستول. د دې تر څنګ د بېلابېلو پروګرامونو له لارې د افغانستان شتمني او معادن لوټوي، د نشه‌يي توکو له قاچاقه زيات عوايد تر لاسه کوي، د خپلې بشري ايډيولوژۍ، ارزښتونو او فرهنګ د خپرولو او تطبيق لپاره پراخې هڅې کوي. د افغانستان له جغرافيې څخه په سيمه کې د روسيې او چين د نفوذ د پراختيا په مخنيوي او په منځنۍ آسيا کې د چين او روسيې د استعمار د مخنيوی او په خپله د هغو د استعمار لپاره ګټه اخلي او هغوی بوخت ساتي، ترڅو په سترو نړيوالو قضيو کې سرخوږی ورته جوړ نه کړي. د دې ترڅنګ د امريکا بله ستره لاسته راوړنه دا ده چې ټول هغه عناصر يې تقريباً له قدرته ګوښه کړي چې د

دوی د سیاستونو لپاره خنډ کېدل لکه ځینې پخواني مجاهدین او کمونېستان؛ چې وروستی اقدام یې د اشرف غني لخوا په فوځ کې د اصلاحاتو په نامه څه د پاسه ۵۰۰ جنرالانو گوښه کول وو. نو امریکا ته په افغانستان کې د ننه، سیمه ییز او نړیوال خپل ستر اهداف اهمیت لري او هغه اهداف د همداسې یوه بې کفایته، کمزوري او گډوډ حکومت په اډانه کې ښه تر لاسه کېدی شي.

نو د ایتلاف غړي باید په دې غور وکړي، چې ولې یې د دا ډول حل لارو منبع د ټولنې شته واقعیتونه دي، هغه هم هغه واقعیتونه چې تل یې استعمار ورته ترسیموي. دوی د بن کنفرانس، لویو، مشورتي او دودیزو جرگو، موقت حکومت، انتقالي حکومت، د کرزي د حکومت او د ملي یووالي حکومت ناکامي تجربې لري او ښه پکې و آزمویل شول. نور باید عبرت واخلي، خپل اصلي دښمن او ریښتینې حللارې باید وپېژني، له امریکا سره امنیتي او ستراتیژیک تړونونه لغوه کړي، د شرق او غرب استعمار ته نه ووایي او د یوې اساسي اسلامي او ایډیوژیکې حل لارې په لټه کې شي او د شته ناوړه وضعیت د تغییر لپاره لاس په کار شي؛ ترڅو بالاخره داسې یو اساسي تغیر رامنځته کړي، چې د همېش لپاره دوی او دا مظلوم ولس نور د استعمار له ناورینونو څخه په امن شي او په آخرت کې هم ستر اجر او لوړ مقام تر لاسه کړي.

خالد ایثار